مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسور ودان

۲۰۲۶/۰۲/۰۶

# بایلات

ته له ما
زرګونه میله فاصله کې یې
یا ښایي زه له تا
لرې شوی یم
خو ما ته کټ مټ داسې ښکاري
لکه واک مې چې بایللی وي
لکه له ځانه چې جدا شوی یم
لکه تاریخ مې چې مسخه شوی وي
لکه یرغمل شوی چې یم
او په نهایت کې
لکه وطن مې چې بایللی وي
بیخي لکه زما د خیالونو
شهزاده او مئین شاعر به چې
بایلوده
روح
ځان
تاریخ
او وطن



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ